یونس نگاه


۱۳ اپریل ۲۰۲۳



**یونس نگاه**

# د یوناما تسکیني ماموریت او د افغانستان دردونه

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو دفتر په خپله تازه اعلامیه کې لیکلي، چې د ۲۰۲۱م کال له اګست وروسته یې هڅه کړې ده، چې خپل حضور او خدمتونو ته دوام ورکړي څو «د افغانانو بې ساري کړاوونه کم کړي». دا جمله په افغانستان کې د یوناما د اوسني حضور ماهیت څرګندوي او ښیي چې دغه سازمان په افغانستان کې خپل څه وړ ماموریت ته ارزښت ورکوي: د افغانانو د کړاوونو کمېدل.

په افغانستان کې د خپل ماموریت په اړه د یوناما دا نظر په بنسټیز ډول له هغه څه سره توپیر لري چې ملګرو ملتونو په ۱۹۴۵ کال کې د خپل تاسیس پر مهال اعلان کړی و. د دغه سازمان لومړنی منشور تر اوسه په ظاهره د اعتبار وړ دی او په وروستۍ اعلامیه کې د همدې منشور پر بنسټ په افغانستان کې د دغه سازمان د ښځینه کارکوونکو پر فعالیتونو د طالبانو بندیزونه غیر قانوني بلل شوي دي. خو په منشور کې د ملګرو ملتونو لپاره د کورونو د وېش او د انسانانو د کړاوونو د کمولو رول نه و ټاکل شوی، بلکې د جګړې او بې عدالتۍ له شره د خلکو ژغورل او له ټولنیز پرمختګ او د ژوند د شرایطو له ښه کولو سره مرسته یې بنسټیزه دنده بلل شوې وه. د ملګرو ملتونو په منشور کې راغلي چې «موږ د ملګرو ملتونو خلک د جګړې له شره د راتلونکو نسلونو د ساتنې په تصمیم نیولو سره ... او په اساسي بشري حقونو او د انساني شخصیت پر حیثیت او ارزښت او د نارینه او ښځینه او دغه راز د کوچنیو او لویو هیوادونو ترمنځ پر حقوقي برابرۍ د خپل بیا باور په اعلانولو او د عدالت ساتلو لپاره د ښه شرایطو پر رامینځته کولو او د تړونونو او د نړیوالو قوانینو له نورو سرچینو نه رامینځته شوي الزاماتو ته په درناوي او د ټولنیز پرمختګ او له نورې ازادۍ سره د ژوند له غوره شرایطو سره په مرستې کولو سره... هوډ من شوي یو چې د دې موخو د ترلاسه کولو لپاره په ګډه هڅې وکړو».

په دې منشور کې ملګري ملتونه د یوه منفعل او د جګړه مارو او ترهګرو د یوه مرستندوی او ناصح سازمان په توګه نه دی معرفي شوي، بلکې د دې سازمان غړي مکلف دي چې د پورته یادو شویو موخو د پلیتابه لپاره د دغه سازمان د «قهري» اقدام (د دوېیمې مادې پینځمه فقره (ملاتړ وکړي. د منشور اوومه ماده د قهري اقداماتو د تنظیم لپاره ځانګړې شوې او د سولې، عدالت او بشري امنیت د دښمنانو پر وړاندې د ځمکنیو، سمندري او هوایي ځواکونو د کارولو د څرنګوالي په تړاو پکې تفصیلي خبرې شوې دي. په ۳۹ ماده د ملګرو ملتونو امنیت شورا ته اجازه ورکړل شوې ده چې «سولې ته د هر ډول ګواښ، د سولې د نقض یا د تېري عمل» پر وړاندې اقدام وکړي. په ۴۱ او ۴۲ مادو کې یې د اقداماتو ډولونه تشریح کړي چې له یوې خوا، نرم اقدامات لکه د بندیزونو لګول، سوداګریز، مخابراتي او سیاسي محدودیتونه او له بلې خوا، د اړتیا په صورت کې «د سولې او امنیت د ټینګښت لپاره» د هوا، سمندر او ځمکې له لارې د پوځي برید اقدامات شامل دي. په دغه منشور کې پر سملاسي پوځي اقداماتو او د پوځي کارکوونکو د کمېټې پر ټاکلو (۵۴مه ماده) او د وسله والو ځواکونو د استخدام پر پلانونه (۵۶مه ماده) بحث شوی دی. په منشور کې د اوسني منفعل سازمان هیڅ نښه نشته چې د کورونو د وېشلو او د دردونو د کمولو په هڅه کې وي، په افغانستان او د نړۍ په نورو برخو کې د ترهګرو، جګړه مارو او د سولې او عدالت د دښمنانو واکمنې د زغملو وړ کړي او له داسې ډلو سره د تعامل لارې چارې پیدا کړي چې خلک یې یرغمل نیولي او له بنسټیزو حقونو لکه کار، زده کړې، سفر او تفریح نه یې بې برخې کړي دي.

له کله راهیسې چې د امریکا په مشرۍ نړیوال ایتلاف پرېکړه وکړه چې د طالبانو سیاسي رول په رسمیت وپېژني، ملګري ملتونه د دې بهیر پر توجیه کوونکو او د لارې پر هواروونکو بدل شوي او تر نن ورځې پورې رسمي امارت ته د طالبانو د لاربښوونې د پروژې عملي کوونکي دي. د وژلو، شکنجو، تبعیض، جبري کډوالولو، د زده کړو د بندیز، د کار د بندیز او نورو بشري ضد تګلارو پر وړاندې د چوپ پاتې شوي او یا په نصحیت ډوله اعلامیو بسنه کړې ده. البته، تل داسې نه وه. هر کله چې د دې سازمان اصلي ونډه والو اړینه ګڼلې ده، د منشور او نړیوالو کنوانسیونونو په کارولو سره یې د جګړې اعلان کړی او د نظامي ځواکونو لېږل یې توجیې کړي دي، لکه څنګه چې موږ د دې پېړۍ په پیل کې په افغانستان او عراق کې ولیدل. که منشور معیار وي او د ملګرو ملتونو بنسټیز اصول د یوناما د عمل لاربښود وي، نو دا دوه کاله په افغانستان کې څنګه د مخنیوي له کوم اقدام پرته د بې عدالتۍ او ظلم ننداره کوي؟ که د صدام حسین د رژیم او د ملا عمر د امارت ړنګول د ملګرو ملتونو دنده وه، نو د ملا هیبت الله امارت ولې د افغانستان پر خلکو تحمیلېږي؟ که د عراق د خلکو د ازادۍ نشتوالي نظامي برید توجیه کاوه، نو په کوم معیار له ټولیزې لوړې د مړینې تر بریده د نږدې څلویښت میلیونو افغانانو شکنجه او پر داسې لوی زندان د دغه هېواد بدلېدل چې له خلکو نه د کار، زده کړې او تفریح حق اخیستل شوی، زغمل کیږي؟

شرکتي چلند

په ډېرو مواردو کې، یوناما د یو لوی شرکت یا د مرستندویه ادارو د کنسورسیوم په څیر عمل کوي، چې د کلنیو پلانونو پلي کولو، وړاندیزونو چمتو کولو، د مرستې راټولولو، د معیشت تضمینولو او د خپلو افسرانو د کار دوام ته لومړیتوب ورکوي، او په منشور کې ټاکل شوي دندې د دغو سازماني لومړیتوبونو په ګټه یوې خوا ته پرېږدي. د طالبانو د فرمانونو پر وړاندې د دغه سازمان لومړی جدي غبرګون د روان کال د جنورۍ په میاشت کې په هېواد کې له شاوخوا یو نیم کال مخ پر خوړ حرکته وروسته څرګند شو. کله چې طالبانو د ۲۰۲۱م کال په سپټمبر کې له ښځو پرته کابینه اعلان کړه، موږ د ملګرو ملتونو لخوا د کوم جدي غبرګون شاهدان نه وو. کله چې د هماغې میاشتې په ۱۹مه، د کابل ښاروالۍ ښځینه کارکوونکې دندې ته له تګه منعه شوې، د ملګرو ملتونو له لوري مو کوم جدي

اعتراض ونه لید. موسیقي بنده شوه، د ښځو سپورټ نامناسب او نا اړین اعلان شو، په پوهنتونونو کې جنسیتي تفکیک پلی شو، د ښځو چارو وزارت د امر بالمعروف او نهي عن المنکر پر وزارت بدل شو او په همدې میاشت کې د نجونو پرمخ د لیسې او منځنۍ دورې ښوونځي وتړل شول. د ملګرو ملتونو په شتوالي کې د بندیزونو دا لړۍ تر دې بریده ورسېده چې نجونې او ښځې حمام ته له تګه منعه شوې، خو د ملګرو ملتونو غبرګون تعامل ته د طالبانو هڅول او ډیر برسېرن نصحیتونه وو. له یوه کال او څو میاشتې وروسته، د کورونو د وېش د کنسرسیوم د خپلو کارمندانو وار راورسېد، اود ۲۰۲۲م کال د ډسمبر په ۲۴مه، طالبانو په کورنیو او بهرنیو نادولتي موسسو کې د ښځینه کارکوونکو پر کار بندیز ولګاوه. د طالبانو دا پرېکړه د یوناما له بې ساري غبرګون سره مخ شوه او په دغه سازمان کې له کابله تر نیویارک پورې جدي تحرک پیل شو. د یوناما سازماني ګټې زیانمنې شوې وې او د هغې ناخوښي د دغه سازمان په اعلامیې او اقداماتو کې له ورایه ښکارېده. د طالبانو تر واکمنی وروسته د لومړي ځل لپاره د ملګرو ملتونو لوړ جګپوړی پلاوی د همدې ادارې د مرستیالې امینه محمد په مشرۍ کابل او کندهار ته ولاړ. نوموړې د ملګرو ملتونو د ښځو د څانګې له اجرایوي مشرې سیما بحوث، په سیاسي او سوله بیزو چارو کې د دغه سازمان د سرمنشي له همکار خالد خیري او په کابل کې د ملګرو ملتونو له استازو سره یو ځای پلان درلود چې له ملا هبت الله سره وګوري. خو ملا دوی خپل حضور ته ونه منل. په هغې اعلامیه کې چې افغانستان ته د ملګرو ملتونو د جګپوړي پلاوي د څلور ورځني سفر په مناسبت خپره شوې وه، د دغه سفر موخه "د وضعیت ارزول، له رسمي چارواکو سره تعامل او د افغانستان له خلکو سره د ملګروو ملتونو پر پیوستون ټینګار بلل شوی و. ملګري د دې سفر اصلي موخه د طالبانو له ښځو ضد فرمانونو د ملګرو ملتونو د کارکوونکو د معافیت ترلاسه کولو لپاره له رسمي چارواکو سره تعامل و. طالبانو هم په هوښیارۍ سره د نړیوالو موسسو په روغتیايي چارو کې د ښځو د کار په برخه کې یو محدود معافیت ومانه او اغلې محمد دغه معافیت »مهم« وباله او له دې پرته چې له سفر وروسته د طالبانو د ظالمانه تګلارې پر وړاندې کوم اقدام وکړي، بېرته ستنه شوه. کله چې ملګري ملتونو د طالبانو له معافیته خوښي څرګندوله، د طالبانو د فرمانونو له امله په میلیونونو ښځې له لوږې، بیکارۍ او په کورونو کې له کړاوونو سره مخ وې. یوناما نه ده توانیدلې چې د ملګرو ملتونو له منشور سره سم عمل وکړي او د سولې، عدالت او ټولنیز پرمختګ د تامین لپاره چې د دې سازمان اصلي دنده ده، هڅې وکړي او ژمنتیا وښیي. له همدې امله، دغه اداره ان د خپلو کارکوونکو د کار په ساتنه کې هم ناکامه شوې ده. اوس چې د طالبانو لخوا د یوناما د ښځینه کارکونکو معافیت لېرې شوی، په ملګرو ملتونو کې د سازماني ګټو د دفاع لپاره د پام وړ خوځښت رامنځته شوی دی.

یوه خوشبینه انګیرنه

ځینې ګومان کوي چې د دې سازمان نرمښت تعامل ته د طالبانو د هڅولو لپاره یو تاکتیک دی. که موږ دا خوشبینانه انګیرنه سمه وګڼو، ملګري ملتونو له طالبانو سره د اړیکو ساتلو او د یو داسې حکومت د جوړېدو په برخه کې چې طالبانو او ښکېلو هیوادونو ته د منلو وړ وي، د سیاسي هلو ځلو لپاره زغم ته مخه کړې ده. او د طالبانو بشري ضد فرمانونه د یوې داسې ورځې په هیله چې د امتیازاتو په ورکولو سره به د امارت چارواکي د افغانانو په تېره بیا، د ښځو له ژونده محدودیتونه لېرې کړي، زغمي. د دې انګیرنې پر بنسټ، طالبان بدل شوي او پوهیږي چې د افغانستان د خلکو اساسي حقونو ته له درناوي او له مخالفو وسله والو سره له اړیکو پرته نه شي کولای یو باثباته حکومت جوړ کړي او د ملتونو په ټولنه کې د یوه عادي غړي په توګه د منلو وړ وګرځي. نو د طالبانو په لاس کې بشر ضد فرمانونه د چنې وهلو یوه وسیله ده او که نړۍ هغوی ته امتیازات ورکړي او د امارت د رسمیت پېژندنې پر لور حرکت وکړي، نو دوی به هم په تدریجي ډول خپل دغه بشري ضد فرمانونه لغوه کړي.

خو د نړیوال نظام منلو ته د طالبانو د لېوالتیا کومه نښه نه لیدل کېږي. طالبانو تل ټینګار کړی چې واک یې په زور نیولی دی، د خپل امیرالمومنین له امر پرته هېڅ قانون په رسمیت پېژني، د امارت او خلکو تر منځ په اړیکو کې له اطاعت پرته بل هیڅ قانون نه مني او ټول افغانان د جهاد او ځانمرګو بریدونو د امر اورېدو ته چمتو ګڼي. هغوی ځو ځلې ویلي چې د خلکو د ژوند او ژواک دنده نه لري، روزي ورکوونکی خدای دی، د دنیا ژوند هېڅ ارزښت نه لري او د طالبانو دنده دا ده چې خلک له مرګ وروسته ژوند ته چمتو کړي. دا هرڅه په پټه او د رسنیو له سترګو لرې یا په وېره او ډیپلوماسۍ کې نه کوي، بلکې د دوی په اسنادو، ویناوو، فرمانونو او اعلانونو کې په پراخه کچه موندل کیدای شي. خو ولې له دې ټولو شواهدو او له دې ټولو اسنادو سره سره ملګري ملتونه او د هغو اصلي ونډه وال هڅه کوي، چې د طالبانو ملاتړ وکړي او هغوی ته لارښوونه او نصیحت وکړي؟ ځواب یوازې دا کیدای شي چې د ملګرو ملتونو منشور، د بشري حقونو نړیواله اعلامیه او ډیری کنوانسیونونه چې له عادلانه او بشري اصولو او قواعدو ډک دي او نړیوال سازمانونه او هیوادونه مکلفوي چې په ټوله نړۍ کې د جنسیت، ملیت او توکم له تبعیض پرته له سولې، عدالت او ټولنیز پرمختګه دفاع وکړي او هغوی مکلفوي چې د بشري حقونو له سرغړونکو، جګړه مارو، قاتلانو او له پرمختګ ضد قوتونو سره له تعامله ډډه وکړي، هېر شوي دي. په ملګرو ملتونو کې دغه اسناد لکه په کندهار کې چې قرآن او احادیث سیاسي وسیله ګرځېدلي دي، د مرستندویه سازمانونو د کنسرسیوم او د هغه د ونډه والو هېوادونو له سازماني ګټو پرته د بل څه لپاره نه کارول کیږي.

ملګرو ملتونو په خپله وروستۍ اعلامیه کې «د طالبانو د چارواکو» هغه وروستي پرېکړه غندلې چې په افغانستان کې یې له ملګرو ملتونو سره افغان ښځې له کاره منعه کړي او لیکلي یې دي، چې اوس «د پاتې کېدو او د افغانانو په ملاتړ د خدمتونو د وړاندې کولو او هغو مقرراتو او اصولو ته د ژمنتیا تر منځ په دوه لارې کې پاتې دي،چې پر رعایت یې مکلف دي.که ملګرو ملتونو خپل منشور ته درناوی کړی وای او څو میاشتې مخکې یې د یو مهم پرمختګ په توګه د خپلو کارکونکو د معافیت هرکلی نه وای کړی، نو له داسې ویروونکو انتخابونو سره به نه مخ کېدل. که د دوحې د مذاکراتو پر مهال د سیاسي سوداګرو ترڅنګ د دربېدو پرځای یې د خپل منشور پر اصولو ټینګ کړی وای او د سولې، عدالت او ټولنیز پرمختګ ملاتړ یې کړی وای، اوس به یې یې ډېر اعتبار درلود. په اعلامیه ملګرو ملتونو خبرداری ورکړی چې د دغه کړکېچه منفي پایلې به «د واکمنو چارواکو» پرغاړه وي. دا باور چې ګواکې طالبان یوه مسؤول ډله ده او د پېښو منفي عواقب یې پر غاړه اچول کیدای شي، یوه غولنه ده. طالبان هیڅ «ژمنتیا» نه لري او نه هم کوم مسؤلیت پرغاړه اخلي. اعلامیه له نهیلوونکی عبارتونو ډکه ده او هیڅ داسې نښه پکې نشته چې د کار، تعلیم، تفریح، حمام او سفر حق په ګډون د افغانانو د بنسټیزو حقونو په دفاع کې د طالبانو پر وړاندې جدي اقدام ته هیله من شو.

د بشري مرستو په تسکین سره د خلکو درد نه دوا کیږي، ظلمونه نه ختمیږي او عدالت نه رامنځته کیږي. ملګري ملتونه چې د خلکو د کړاوونو کمول خپله دنده ګڼي، یوه ورځ به د خلکو له کرکې سره مخ شي. که څه هم نن ورځ بشردوستانه مرستې زموږ د هیواد د یوې لویې ډلې ژوند ژغوري، خو زموږ انفرادي او ډله ییز باور ته نه جبران کیدونکې زیان رسوي. هغه سرلوړي خلک چې په کار او زیار مشهور دي، ټول وطن یې له کار، زیار او هنره ډک دی او په خپلواکۍ او پر ځان بسیاینې مشهور وو، نن د قدرتونو د یرغل او نیابتي جګړو له امله د رامنځته شویو بدلونونو په پایله کې له ټولیزې سوالګرۍ سره مخ شوي دي. ګټو کورنیو ته چې د جګړې او استبداد له امله له لوږې سره مخ دي، د اوړو او غوړیو استول د انجوګانو او ملګرو ملتونو په یوې لویې سوداګرۍ بدل شوي دي. پر «کار» د یوه ملت لوږه او کړاو بدلول او او اساسي تدبیر ته بې پامي چې د ناورین ریښې وچې کړي، بشردوستي نه ده.

په يوې مستنده ويډيو کې چې زموږ د پاميري هيوادوالو پر ژوند جوړه شوې، د هغوی د ډيرو کړاوونو کمېدل د فلم يو له مهمو مسألو ده. په ټول فلم کې خلک له خپلو ډيرو کړاوونو شکايت کوي. وايي، چې يوه پر دريمه برخه ميرمنې د زيږون پرمهال مري او نيمايي ماشومان تر پنځه کلنۍ مخکې مري، په دې سيمه کې ډاکټران او درمل نشته او اکثره نارينه او ښځې د درد د کمولو لپاره ترياک کاروي. د ترياکو سوداګر د هغوی د ژوند يوه مهمه برخه ګرځېدلې ده. د ترياکو له تسکين پرته ژوند ورته خورا ستونزمن او ځينې وختونه ناشونی ښکاري. د پامير يو اوسېدونکی عبدالولي د فلم په يوه صحنه کې په خپل کور کې د ترياکو پلورونکي ته ښه راغلاست وايي، خو د اراموونکو ترياکو د پلورونکي له وتلو وروسته وايي: «بې چاره خلک ټول ترياکي شوي دي. چاره نه لري، له درده کړېږي او [د درد د کمولو لپاره ترياک] څکوي. د ترياکو سوداګر شيطانان دي. د ترياکو له لاسه بنديان يو.

د افغانستان د خلکو او مرستندويه موسسو تر منځ اړيکې هم د ترياکو له عرضه کوونکو سره د عبدالولي پاميري له اړيکو ښه نه دي. خلک د مرستې هرکلی کوي، د ملګرو ملتونو او نورو مرستندويه ادارو مرستو ته سترګې په لاره پاتې کېږي، خو د مرستې په هر ځل ترلاسه کولو سره لا خواشيني کېږي.